# پښتو افسانه د يوې صدۍ قيصه؟

پروفيسر اسير منګل

**Abstract**:

A Hundred years story of Short Story in the Pashto literature:

This paper is going to trace the evolutionary construction of the genre of short story in the Pashto Literature which is extended over more than a hundred years. The controversial case of the first short story writer is also evaluated and the famous Orientalist J. G Lorimer locally known as Lardam Feringee(The Scorpion Feringee)is declared as the pioneer in this regards. The short story of Pashto Literature was directly influence by Urdu literature. This influence was entered through the progressive literary movements which tied story with life and the diverse forms of social,political,economic and cultural issues were unpacked through stories in the form of direct narration and narrations between the lines that is experiencing the allegories and symbolism. The Pashto Short story passed through its three compulsory stages. The initial period tarts from the narration of the Lardam Feringee (J.G.Lorimer) in 1906 which is followed by outstanding writers till 1950. The second period of Short story is estimated form 1951, which was given a formal boost through the inception of the "Olasi Adabi Jirga" (The public Literary Council). The short stories of this period unpacks the inherent socio-cultural,political and religious contradictions in the traditional and tribal societies of Pashtoons. This period is mainly led by the writers conceptually attached to the progressive literary movement in region. The third period which starts from 1981 till date, cater a diverse forms of short stories. The very distinct features of Pashto short story is its diversification while mainstreaming the story in the global literary parameters, tools and techniques. The innovations in this context could be seen in the form of allegorical and symbolic patronization of story with its themes stemmed in concrete realities around within and outside Pashtoon society.

افسانه څۀ شے دے؟ د افسانې اهميت څۀ دے؟ په دې بلا ډېرې خبرې شوې دي. زۀ به دومرې قدرې ووايم چې هره افسانه يوه قيصه لرې خو هره قيصه افسانه نۀ وي. مطلب دا دے هغه قيصه چې په مروجه فني قواعدو وليکلے شي چې کوم ورته د ايډګرايلن پو نه را واخله تر ننه پورې وضع کړے

شوي دي هغې ته لنډه قیصې یا افسانه ویلے شي. زمونږ په روماني داستانونو ادم خان درخانۍ، یوسف خان شېربانو او مومن خان ګل مکۍ وغېره کښې هم د افسانې کړه وړهٔ په نظر راځي. ولې په باقاعده توګه افسانه پښتو او اردو ته د شلمې صدۍ په سر کښې راغله ″(1).

ورځپانه ″انقلاب″ پېښور په یو ادبي ایډیشن کښې چې کله د پښتو نامتو نقاد او محقق قلندر مومند یوه تحقیقي لیکنه ″د پښتو ورومبے افسانه نګار″ خوره شوه چې په کښې د راحت زاخیلي په ځائے لرم پېرنګے د پښتو ورومبے افسانه نګار ثابت کړے شوے وُ. نو بس یوه هنګامه جوړه شوه او هر چا د تنقید تېرهٔ غشي ورول شروع کړل. او چا هم دا تکلیف نهٔ وکړو چې د لرم پېرنګي لیکلې لغات A Dictionary of wazire language ته رجوع وکړي او په کښې د جې جي لوریمر J.G. Lorimer لیکلې د پښتو افسانه وګوري چې آیا واقعي دا افسانه ده او که نهٔ.

″راحت زاخیلي 1917ء کښې ″کونډه جینۍ″ ولیکله او د پښتو ورومبے افسانه نګار جوړ شو. ولې نوے تحقیق دا دعوه وکړه. خو په دې جذباتي کېدل په کار نهٔ دي. اصل کتل ضروري دي چې حقیقت څهٔ دے؟ A Dictionary of wazire Language کال 1902ء کښې د کلکتې نه خور شوے دے. د لغاتو د دې کتاب په اخیر کښې دوه قیصې دي چې یوه د انجیل نه ترجمه ده او بله د پښتو افسانه ده. دا دواړه قیصې په رومن کښې لیکلې شوې دي. لهجه یې وزیري ده. قلندر مومند دغه Short Story د رومن نه مروجه یوسفزۍ لهجې ته را واړوله او په ورځپانه ″انقلاب″ پېښور کښې یې شائع کړه. د دې قیصې لنډیز داسې دے. لرم پېرنګے لیکي:

″زهٔ جاني خېلو او بکاخېلو تر مېنځه یوې تنازعې هوارولو ته تلے وم. هلته ما یو سړے ولیدو چې په تندي یې د زخم نخښه وه. ما ورنه تپوس وکړو چې دا په څهٔ خوږ شوے یې؟ هغهٔ راته دا قیصه واوروله. زما یوه ښځه وه چې چال چلن یې ټیك نهٔ وُ. یوه شپه هغه د کوره را ووته. زهٔ پټ پټ ورپسې تلمه. باران هم وریدو هغه د کلي نه بهر په یوه دشته کښې یو کس له ورغله او ورته یې ووې: ″ما درته ډوډۍ راوړې ده. هغهٔ ووې اوس څه لاړه شه. ما ته اوبهٔ راوړه چې زهٔ لاسونه ووینځم. چې کله هغه اوبو ته لاړه نو ما د دې سړي سر په توره

غـوځ کـړو او خپـل کـور تـه راغلـم. ډېـر سـاعت پـس زمـا ښـځۀ هـم واپـس راغلـه ډېـره خفـه وه. څـو ورځـې پـس مـا هغـې تـه ووې: "ځـه لاړه شـه د کـوټې نـه مـا تـه نسـوار راوړه خـو هغـې د را وړلـو نـه انکـار وکـړو او وې ويـل: "کوټـه کښـې تيـاره ده زۀ يرېـږم. مـا هغـې تـه ووې چـې: "پـه هغـه شـپه خـو تـه نۀ وېرېـدې چـې کلـه پـه يـوه خوشـې دشـته کښـې خپـل يـار تـه ورتلـې او اوس ...... دې سـره هغـې تـورې تـه لاس کـړو ولـې مـا قـابو کـړه او مـړه مـې کـړه پـه دې جګـړه کښـې زۀ پـه تنـدې ژوبـل شومه "(2).

اوس چـې يـو سـړے پـه سـړه سـينه سـوچ وکـړي چـې دا د يـوې صـدۍ خبـره ده او هغـه وخـت دے چـې لا پـه اردو کښـې هـم د افسـانې ليکلـو رواج نـۀ ؤ. او پـه پښـتو کښـې کـه چا کوشـش کـړے دے نـو مـونږ دې ولـې ور نـه سـترګې پټـې کـړو. د لـرم پيرنګـي پـه دې افسـانې خبـرې ډېـرې کېـدے شـي. اول دا چـې دا د پښـتني تـولنې قيصـه نـۀ ده بلکـې د فارسـي مشـهور داسـتان "ګـل او صـنوبر" پـه پـلاټ ليکل شوې قيصه ده.(3)

هـم پـه دغـه پـلاټ منشـي احمـد جـان پـه "قصـه خـوانۍ ګـپ" کښـې "د پښـتون بـدل" سـر خـط لانـدې يـوه قيصـه ليکلـې ده. چـې کردارونـه يـې ورتـه لـږ پـه وړانـدې بـوتلي دي او پښـتني معاشـرت سـره يـې د برابرولـو زيـار کـړے دے. خـو دا هم د افسانې په فن پوره نۀ خيژي. "(4).

د اردو ژبـې نـامتو افسـانه نګـار کرشـن چنـدر هـم پـه دغـه پـلاټ يـوه افسـانه "پريتـو" ليکلـې ده چـې د اردو قيصـه ايـز ادب د يـوې شـاهکار افسـانې پـه توګـه شهرت لري.

تـر کـومې پـورې چـې د لـرم پيرنګـي د افسـانې تعلـق دے د هغـې **Treatmcut** ښـۀ نـۀ دے. کـردار نګـاري او منظـر نګـاري هـم ښـه نـۀ ده. ولـې د دې بـاوجود پـه دې کښـې د افسـانې رنـګ شـته او مـونږ مجبـوره يـو چـې دغـه فنپـاره د پښـتو پـه افسـانه کښـې يـو وړومبے ګـام وګڼـو. ولـې ورسـره بـه دا هـم منـو چـې پښـتو تـه افسـانه د انګريـزي پـه لاره نـۀ بلکـې د اردو پـه لاره راغلـې ده. د لـرم پيرنګـي افسـانه چـا نـۀ ده لوسـتې. زمـونږ د ابتـدائي دور افسـانه نګـار د راحـت زاخيلـي نـه متـاثره دي. يعنـي د پښـتو د افسـانې شـروع کـه يـو پيرنګي افسـانه نګـار کـړې ده. ولـې حقيقي معنـا کښـې د امامت فرائض يې مرحوم راحت زاخيلي تر سره کړي دي. (5)

د راحت زاخیلي افسانې مرحوم افضل رضا را غونډې کړې دي او پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورستۍ شائع کړې دي. دغه افسانې چې سرے "د کونډې جینۍ" په تناظر کښې لولي نو حېران شي چې د موصوف نورې افسانې ولې داسې نۀ دي. صرف "پټ پټونے" او "د تندي لیک" باندې د افسانې مینه ماتېدلے شي. ګڼې نورې خو ټولې تشې تورې قیصۍ دي چې په فني لحاظ افسانو ته بېخي ورته نۀ دي. د راحت زاخیلي وړومبۍ افسانه "کونډه جینۍ" یوه شاهکار افسانه ده کومه چې 1917ء کښې لیکلې شوې ده. ولې اخیري افساني "د تندي لیک" په 1960ء کښې لیکلې شوې ده چې کومه د مخکښې په شان معیاري نۀ ده. دغه نکته یو محقق په دې شک کښې اچوي چې "کونډه جینۍ" به د مرحوم راحت زاخیلي طبع زاد افسانه نۀ وي بلکې د بلې ژبې نه به يې ژباړلې وي.

د پښتو افسانې وړومبي دور شروع د لړم پېرنګي 1902ء نه کیږي ولې باقاعدګي په کښې د راحت زاخیلي 1971ء نه راځي او دغه سلسله تر کال 1950ء پورې رسي. په دې موده کښې د راحت زاخیلي نه پس بل توانا افسانه نګار ماسټر عبدالکریم دے چې د افسانو کتاب يې "د جولۍ ګلونه" په نامه چاپ دے. په دې کتاب کښې د افسانو سره سره تکلونه هم شته. ځینې افسانې يې ژباړلې دي. "د یتیم اختر" يې د انګرېزي ژبې افسانه نګار اندرسن پسنه د یوې افسانې ترجمه ده.(6)

دا افسانه حافظ هم پښتو کښې ژباړلې ده. میا ازاد ګل، س ب ب، سربلند خان، نادرخان بزمي، امیر حمزه شینواري، میا سېد رسول رسا، اجمل خټک او مراد شینواري هم په دې دور کښې افسانې لیکلې دي. د دې دور د مطالعې نه پس دا اندازه لګي چې پښتو افسانه روماني او اصلاحي بڼه لري. نۀ په فني لحاظ پیاوړې ده او نۀ په خپلې جولۍ کښې ګڼ موضوعات لري. په دې دور کښې د ازادۍ یو تحریک چلېدلے ؤ ولې زمونږ په افسانه کښې د دې څۀ خاص نخښې نښانې په نظر نۀ راځي. ولې بیا هم د س ب ب "په قامه مینه جهان ارا" او د نادرخان بزمي "مینه ښه ده که وطن" د یادولو وړ ضرور دي. د نادر خان بزمي یو بل کمال دا دے چې دۀ په وړومبي ځل پښتو کښې جنسي افسانه "مهرباني" ولیکله او دغه سلسله بیا اشراف حسین احمد په وړاندې

بوتلـه. پـه دې دور کښـې ځنې داسـې افسـانې هـم لیکلې شوې دي چې نـن هـم پـه غـوره افسـانو کښـې د شـاملېدو حـق لـري. لکـه د اجمـل ختـټک "پښـتو" د دې دور یـوه شـاهکاره افسـانه ده. د مېـرمن زیتـون بـانو "ژونـدي غمونـه" او د سـعدالله جـان بـرق " بـدل" هـم د دغـه افسـانې پـه تـاثر کښې لیکلې افسـانې دي. هـر څـو کـه د بـرق افسـانه لـږه پـه بـدل شـکل کښـې ده ولـې د بـانو "ژونـدي غمونـه" خـو ورسـره ښـځـې یو شانوالے لري.(7)

د پښـتو افسـانې دویـم دور 1950ء نـه تـر 1980ء پـورې پـه درې لسـیزو مشـتمل دے دا د پښـتو قیصـه ایـز ادب یـو مـوړ پـټ دور دے چـې ځـلا ورلـه اولسـي ادبـي جرګـې ورکـړې ده. پـه کـال 1949ء کښـې چـې کلـه دغـه جرګـه وجـود کښـې راغلـه نـو د ادب نـورو صـنفونو سـره سـره پـه پښـتو افسـانه کښـې هـم بـدلون راغـے او پښـتو افسـانه پـه حقیقـت کښـې د افسـانې پـه بـام ودرېـده. مېـر مهـدي شـاه باچـا ، قلنـدر مومنـد ، همـېش خلیـل، اشـراف حسـېن احمـد ، ګـل افضـل خـان، طـاهر اپرېـدے، مېـرمن زیتـون بـانو، اکمـل اسـد آبـادي، اربـاب رشـید احمـد خـان وغېـره د دې دور ژونـدي لیکـونکي دي او پـه وړومبـي ځـل یـې پښـتو افسـانه ژونـد تـه نزدې کړه. او اصلي معنو کښې یې د خپلې تولنې انځور ګري وکړه.

میـر مهـدي شـاه باچـا د خپـل مـاحول اقتصـادي، سیاسـي او معاشـرتي عکسـونه و ځلـول. قلنـدر مومنـد نـۀ یـواځې د حقیقـت نګـارۍ جنـډا پورتـه کـړه بلکـې پښـتو افسـانه یـې پـه فنـي لحـاظ هـم ډېـره مـخ پـه وړانـدې بوتلـه او پـه خـلاص مـټ یـې ترقـي پسـند رجحانـات پـه کښـې ځـایٔ کـړل. همـېش خلیـل پـه دې لـړ کښـې چـې کـوم زیـار اېسـتلے دے هغـې پښـتو افسـانه نـوره هـم وځلولـه. طـاهر اپرېـدي نـۀ یـواځې قبـایلي ټـولنې کرمـې پـه ګوتـه کـړې بلکـې د کراچـۍ د پښـتنو ترجمـاني یـې هـم وکـړه او پـه وړومبـي ځـل یـې د کـال 1980ء نـه پـس پـه باقاعـده توګـه پښـتو افسـانې تـه علامتـي بڼـه ورکـړه. مېـرمن زیتـون بـانو پـه وړومبـي ځـل پـه پښـتو افسـانه کښـې د ښـځې د ذات د زړۀ د اخلاصـه ترجمـاني وکـړه او پـه پښـتو کښـې یـې "چلمچـي" او "کخـے" غونـدې جنسـي افسـانې ولیکلـې. اکمـل اسـد آبـادي د خټکـو کیسـو تـه فنـي جامـه ور واغوسـتله. د خپـل کلـي کرمـې یـې هـم پـه ګوتـه کـړې او خپلـو خلقـو تـه یـې چې کراچـۍ کښـې څـۀ پـېښ شـوي دي هغـه یـې هـم قلـم تـه وسـپارل. ګـل افضـل خـان خـالص د کلیـوال مـاحول ترجمـاني وکـړه. اربـاب رشـید

احمد خان په وړومبي ځل په افسانو کښې د اختصار نه کار واخستو او لوستونکیو د دهٔ دغه اسلوب خوښ کړو.

دریم دور 1981ء نه پېل کیږي. په دې دور کښې مونږ د قلندر مومند، همېش خلیل او د ګل افضل خان غوندې تکړه افسانه لیکونکیو نه محروم یو. ولې دغه دور د مخکښې نه مو مونږ پتې دے. په دې دور کښې افسانه د روایتي خول نه په مکمله توګه وواته. د علامت او تجرید بڼه یې واخسته.

دا خبره د ذکر وړ ده چې د شلمې صدۍ په شپږمه لسیزه کښې اردو افسانه بېرته بیاینه افسانې ته راغلله. ځکه چې ځنې افسانه نګارانو داسې افسانې ولیکلې چې قیصه هډو د مېنځ نه لاړه او علامتونه یې دومره ګران او ګنجلك وو چې ابلاغ یې ببخې کېدو نهٔ. پښتو کښې دا هرڅهٔ د 1981ء نه پس په نظر راځي خو دلته دومره نوې تجربې و نهٔ شوې چې څهٔ مسئله یې پیدا وې.

طاهر اپریدے د دې دور یو تکړه افسانه لیکونکے دے خو رنګ یې ببخې بدل دے. روایتي او بیانیه افسانې نه ډېر مخکښې تللے دے. 1987ء کښې د دهٔ "لاره کښې ماښام" چاپ شو. هم دلته نه په باقاعده توګه پښتو افسانې د علامت او د تجرید بڼه واخسته. چې وروستو ورته فاروق سرور ډېره وده ورکړه او ډېرې ښې افسانې یې ولیکلې. نور الامین یوسفزے، زرین انځور، عنایت الله ضیاء، قیوم مروت، صاحب شاه صابر، ایاز غزل، زبېر حسرت، نصیب الله سیماب، عصمت قانع، پیر محمد کاروان، شېرین زاده خدو خېل، عظمت هما مجاز او راقم الحروف د دې دور جوت لیکونکي دي. د دې دور یو خصوصیت دا دے چې د زلمو لیکونکیو افسانې طرف ته مخه شوه. او زنانه لیکوالې هم مخې ته راغلې چې په کښې د سلمٰی شاهین، سېده حسینه ګل، پروین فېض زاده ملال، بلقیس مکیز، عصمت بي بي او صفیه حلیم نامې د ذکر وړ دي.

په افغانستان کښې چې کومه افسانه لیکلې شوې ده. هغه مونږ په دوو برخو کښې ویشو. یوه هغه افسانه چې د ثور انقلاب نه وړاندې ده. سرخېل یې د افسانستان پخوانے صدر نور محمد تره کے دے. چې لنډه قیصه یې مزاحمتي رنګ لري. په دې دور کښې افسانه نګارانو په شخصي نظام ټکونه کړي دي او سماجي او معاشرتي مسئلې یې څېړلې دي. چې په کښې موسیٰ

شفيق، احسان الله هېر، او کبرىٰ مظهري ښکاره نومونه دي. د ثور انقلاب نه پس چې کومه افسانه ليکلې شوې ده. په هغې د افغانستان د شخړې په حواله خبره شوې ده چا که د جهاد خبره کړې ده. نو چا د فساد په ستونځو قلم پورته کړے دے. محمد صديق پسرلے، امين افغانپور، زرين انځور، عصمت قانع، بريالے باجوړے، محمود کوچے، غوث خيبري، اجمل پسرلے، پير محمد کاروان، وکيل شينوارے، بلقيس مکيز، پروين فيض زاده ملال او حفيظ الله تراب وغېره د دې دور تکړه افسانه ليکونکي دي.

پښتو افسانه لکه څنګه چې ذکر وکړے شو په دريو دورونو اړه لري هر دور يې ځان له يو اهميت لري. د وړومبي دور تله که هر څومره سپکه ده بنه يې اصلاحي او روماني ده. ولې اهميت يې کم نۀ دے. هغه هم دغه ابتدائي دور دے چې د نن افسانې ته يې زمکه هواره کړې ده. او دې ته يې يو مضبوط بنسټ ورکړے دے. دغسې دوېم دور د اولسي جرګې له کبله په هره حواله زبردست دور دے. او ښۀ تکړه ليکونکي په کښې مخې ته راغلي دي. په دې دور کښې جنسي، نفسياتي، سياسي او په معاشرتي ستونځو باندې په زړۀ پورې ليکل شوي دي. اخيري دور هم په خپل ځائے ډېر درونډ دے. چې کوم څۀ په انګرېزي او اردو افسانې کښې موجود دي د هغې عکس پښتو افسانه کښې هم په نظر راځي. دا حقيقت دے چې د اردو افسانه ډېره مخ کښې تللې ده. ولې د پښتو افسانې تګ هم حوصله افزا دے او لاليکونکي لګيا دي د دې په ځولۍ کښې رنګارنګ ګلونه ور اچوي. خو د دې باوجود مونږ دا ستونځه ضرور لرو چې د پښتو افسانې ليکونکي مطالعه ډېره کمه کوي. دغه وجه ده چې مونږ مقدار خو کافي زيات کړو ولې د معيار خيال ډېر کم و ساتلے شو. او دا يو حقيقت دے چې پښتو افسانه نن هم د ډېر څۀ په انتظار ده.

❁❁❁

# ماخذونه

(1) مومند، قلندر، د پښتو وړومبې افسانه نګار، ورځپاڼه انقلاب، پېښور مارچ 1987ء.
(2) زاخيلي، راحت، کونډه جينۍ، اوونۍ اخبار، افغان، پېښور، 1917ء.
(3) احمد جان، منشي، د قصه خوانۍ ګپ، پېښور، 1930ء.
(4) کرشن چندر، پريتو، مشموله، کرشن چندر کے بهترين افسانے، کاظمی پرنټر لاهور، 1992ء، مخ 185.
(5) رضا، افضل، مرتب، د راحت افسانې، پښتو اکېډمي پېښور، 1977ء.
(6) دو ماهي، پښتو داستانونه، پېښور، 2000ء.
(7) بزمي، نادر، پلوشې، اکوړه خټک، 1950ء.